د سلام نړیوال علمي ژورنال

Salam International Academic Journal

*Journal Homepage:* https://journal.salam.edu.af

لسم کال، شمیره ۱۷، پسرلی، کال ۱۴۰۴هـ ش

# د «بهرنیو هېوادونو ته د افغانانو کډوالي؛ عوامل، پایلې او حل لارې» تر عنوان لاندې د ملي کنفرانس یوه لنډه معرفي

دوکتور مصباح الله عبدالباقي[1]

ORCID: https://orcid.org/0009-0004-4224-2339

DOI: 10.64104/v10.Issue.17.n1.2025

ISSN: 3078-9575 (Print) ISSN: 3078-9583 (Online)

تاریخ نشر: ۱۴۰۴/۰۵/۰۸ تعداد صفحات: ۱۶ از صفحه ۱ تا ۱۶

الحمد لله رب العلمین والصلاة والسلام علی سید الأنبیاء والمرسلین و علی آله و أصحابه اجمعین وبعد.

کډوالي او خپل ټاټوبی پرېښودل یوه داسې پېښه ده چې بشریت ورسره له پیل څخه بلد دی، همېشه خلک له یو ځای څخه بل ځای ته کډه شوي دي، د کډوالۍ دا پدیده خو په هغه وختونو کې ډېره عادي او ساده وه کله چې د هېوادونو ترمنځ سرحدونه ډېر په جدي توګه نه مراعات کېدل، په هغو وختونو کې به خلک له یو ځای څخه په ډېرې اسانۍ بل ځای ته کډه کېدل او هلته به یې سکونت غوره کاوه، خو له کوم وخت څخه چې د قوم ـ دولت (Nation-state) د نظریې پر بنسټ هېوادونه رامنځته شول، او د دې نظریې یو بنسټیز اصل ټاکلي ځمکني سرحدونه ؤ، په دې معنی چې دا نظریه د هر ملت لپاره یوه ټاکلې جغرافیایي ټوټه ټاکي چې دولت هلته خپل ملي حاکمیت تطبیق کړي، نو د قوم ـ دولت د نظریې پر بنسټ د هېوادونو د رامنځته کېدو وروسته د کډوالۍ قضیه ستونزمنه شوه، ځکه د هرې جغرافیې اوسېدونکي مشخص شول، او د هرې سیمې وګړو د ځانګړو قوانینو تر سیوري لاندې ژوند پیل کړ، چې په دې قوانینو کې د مهاجرت/ کډوالۍ او په هغه سیمه کې د اوسېدو اړوند قوانینو هم شتون درلود.

خو سره له دې چې کډوالي ستونزمنه شوه، د یوې سیمې څخه بلې سیمې ته د خلکو انتقال ډېر ګران شو خو له دې سره سره بیا هم خلک مهاجرتونو/کډوالیو ته اړ کېږي، چې دا خپل لاملونه او عوامل لري، دا لاملونه څه کېدلی شي؟ همدا راز دا کډوالي د کډوالو په اصلي ټاټوبي ډېرې اغېزې پرېږدي، دا اغېزې څه کېدلی شي؟ همدا راز هغه هېوادونه چې کډوال هلته هستوګنه غوره کوي، هغه هېوادونه هم د کډوالو له شتون څخه اغېزمن کېږي، دا اغېزې څه کېدلی شي؟ د دې ترڅنګ همدا کوربه هېوادونه د دې کډوالو د شتون څخه بېلابېلې ګټې پورته کوي، دا ګټې څه کېدلی شي؟ دا هم پټه نه ده چې پخپله کډوال هم د هجرتونو په نتیجه کې په بېلابېلو ډګرونو کې اغېزمن ثابتېږي، او پخپله هم اغېزمن کېږي، دا اغېزې څه کېدلی شي؟

[1]. د سلام پوهنتون رئیس، 0771694474، Misbah.abdulbaqi@gmail.com

استفاده از مقالات مجله با ذکر نام و مصدر مجاز می باشد

The use of the journal's articles is permitted provided that the author's name and the source are properly cited.

په تېره نیمه پېړۍ کې د نړۍ په کچه افغانستان یو له هغو هېوادونو څخه پاتې شوی دی چې د زیاتو مهاجرتونو سره مخ شوي دي، په بېلابېلو وختونو کې يې زيات شمېر وګړي له هېواد څخه کډه کولو ته اړ شوي، او تر اوسه پورې دا لړۍ روانه ده، دا قضیه هر اړخيزې څېړنې ته اړتيا لري، ځکه دا د افغانانو لپاره یوه ملي او وطني مسأله ګرځېدلې ده، دا مشخص کول پکار دي چې دا په همدې کیفیت مثبته پدېده ده او که منفي؟ دا هم لیدل پکار دي چې د افغانستان څخه د کډوالۍ بنسټيز لاملونه څه دي؟ ځکه تر څو چې موږ د مسئلې ريښو ته و نه رسېږو، او ریښې يې له منځه یو نه سو د مسئلې علاج ممکن نه دی.

هغه کوم ګامونه دي چې نظام او ملت يې بايد په مجموعي ډول پورته کړي چې په نتیجه کې يې د کډوالۍ منفي اغېزې را کمې کړی شو؟ دا هم لیدل پکار دي چې په کومو برخو کې د کډوالۍ څخه زموږ هېواد زیانمن کېږي، دا زیانونه څنګه کنترول کولی شو؟ د دې تر څنګ دا هم يوه طبيعي خبره ده چې پخپله کډوال د کوربه هېوادونو د چاپېريال، کلتور او عنعناتو څخه اغېزمن کېږي، دا اغېزې څه کېدلی شي او څرنګه يې له منفي اړخونو څخه خپل کلتور او عنعنات ساتلی شو؟ په کډوالو باندې د نورو کلتورونو کومې مثبتې اغېزې دي چې هغه ته نور هم په خپله ټولنه کې رواج او وده ورکړو؟ دا او داسې نورې پوښتنې وې چې سلام پوهنتون يې دې ته اړ کړ چې د دې موضوع د هر اړخيزې څېړنې لپاره په ملي کچه یو کنفرانس ترتیب کړي او په ترڅ کې يې دا موضوع وڅېړي.

له همدې امله سلام پوهنتون د هېواد د لوړو زده کړو د محترم وزارت په مرسته او همغږۍ او د اسلامي امارت د مهاجرینو د چارو دمحترم وزارت سره په تفاهم او همغږۍ د «بهرنيو هېوادونو ته د افغانانو کډوالي؛ عوامل، پايلې او حل لارې» تر عنوان لاندې يو ملي کنفرانس جوړولو ته تابيا ونيوله.

سلام پوهنتون د دې اړتيا له ډېرې مودې راهيسې احساسوله او د ملي کنفرانس اړوند کارونه له ډېر وخت څخه جریان درلود، د هېواد له زیاتو پوهنتونونو او تحقیقي ادارو څخه د لیکوالانو او څېړونکو زیات شمېر مقالې د کنفرانس ادارې ته را رسېدلي دي، د دې مقالو د تحکیم (ارزونې) پروسه او د بیا تصحیح پروسه هم جریان لري، خو په دې جریان کې داسې څه حوادث په ناڅاپي توګه رامنځته شول چې د دې کنفرانس د جوړولو اهمیت يې څو چنده نور هم زیات کړ، له دې حوادثو څخه تر ټولو مهمه مصير ټاکونکې قضيه په زور او اجباري ډول د افغان کډوالو له پاکستان څخه شړل او ویستل ؤ، دې قضيې د دې ملي ستونزې د څېړلو اهمیت لا نور هم زیات کړ، د پاکستان له پلوه د افغان کډوالو په اجباري ډول شړلو کې دا لاندې درسونه په څرګند ډول په لاس راځي:

- دا موږ ته د نړۍ سره د اسلامي امارت د سیاسي او ډیپلوماتیکو اړیکو اهمیت نور هم جوت کوي، ځکه که چېرته موږ په واقعي توګه فعالې سیاسي او ډیپلوماتیکې اړیکې درلودی او په کار مو اچولی شوی د پاکستان حکومت په دې توګه د يو لوی او باتور ملت سپکاوی نه شو کولی.
- د پاکستان په څېر د سیمې نور هېوادونه هم زموږ پر ضد د کډوالو د اجباري را ستنولو ورقه له دې څخه په ناوړه توګه استعمالولی شي له دې امله پکار دا دي چې مخکې له دې چې موږ د داسې حالت سره مخ شو د دې ستونزې د حل لپاره موږ پخپله ګامونه پورته کړو.
- په دې باندې هر څوک پوهېږي چې د افغان کډوالو بېرته په زور را شړل له هغه وخت څخه بیا پیل شول چې کله د پاکستان پوځ او استخباراتي ادارې په دې کې ناکامې شوی چې د وزیرستان د بې ځایه شوو خلکو په اړه د افغانستان په اسلامي امارت فشار وارد کړي، چې دا پخپله د پلیت سیاست یو مظهر دی، ستونزه په یو ځای کې او فشار په بل ځای کې واردېږي.

- له دې څخه دا هم ثابتېږي چې افغانستان باید د دې هڅه وکړي چې د ګاونډیو له لوري د فشار د واردولو هر ډول وسایل له منځه یوسي او دا تصور باید پربږدي چې د اړتیا په وخت کې به ګاونډیان د ناوړه وسایلو څخه کار نه اخلي.
- سره له دې چې د کډوالو په را شړلو او په اجباري توګه په راویستلو کې د پاکستان پولیسو او یو شمېر نورو عامو وګړو د ډېر ناروا او ناوړه تعامل مظاهره وکړه خو دا باید د ملتونو ترمنځ د دښمنۍ لامل نه شي، ځکه چې دا هر عاقل درک کوي چې دا د نوموړي هېواد د پوځ او استخباراتي ادارو فیصله ده، دا اداري د خپلو لنډ مهالو ګټو لپاره د ملتونو ترمنځ د دښمنیو د رامنځته کولو څخه هم ډډه نه کوي، خو عاقل ملتونه د خپلو چارو واګې د پوځ او استخباراتو په لاس کې نه ورکوي.
- د سیمې د هېوادونو اړتیا ده چې باید اړیکې د تاو تریخوالي لور ته یو نه سي ځکه یو بل ته اړتیا لري، له دې امله اسلامي امارت باید د ګاونډیو هېوادونو سره د اړیکو د چینلونو د فعال ساتلو نهایي هڅه وکړي، خو دا اړیکې باید د استخباراتي او عسکري اړیکو پر ځای ملکي اړیکې وي او باید چې د هېوادونو د خارجه وزارتونو په چوکاټ کې تأمین شي.
- اسلامي امارت باید د یوې دقیقې پلان ګذارۍ له مخې په پاکستان کې میشتو هغو هېوادوالو ته د بېرته راتګ زمینه برابره کړي چې د هنر خاوندان دي، کسبه کاران دي او زیاته سرمایه لري تر څو د هغوی په بېرته راتګ د هېواد اقتصادي حالت هم تقویه شي او په پاکستاني ادارو کې د دې ډول ګامونو پورته کوونکي هم سرزنش شي.
- دا باید بیا په تکرار سره ووایو چې اسلامي امارت باید د کډوالو قضیه په بنسټیز ډول د حل کولو هڅې وکړي، ځکه که اسلامي امارت دا ستونزه هواره نه کړي، افغانستان به همېش لپاره د یوې زوړندې تورې په توګه له دې لاري د تهدید سره مخ وي، خو دا ستونزه باید داسې توګه هواره شي چې موږ د خپلو هېوادوالو حیثیت او رواني حالت هم ساتلی وي، او په داسې توګه مو را ستانه کړي وي چې هغه ټولې اسانتیاوې ورته په هېواد کې دننه تر لاسه وي چې په نورو هېوادونو کې یې لټوي.
- او د دې هوډ باید وکړو چې په راتلونکې کې د بل هر داسې اقدام څخه پرهېز وکړو چې زموږ نور هېوادوال کډوالۍ ته مجبوروي.

دا خو جوته ده چې که د پاکستان څخه ټول کډوال هم په اجباري توګه را وشړل شي بیا هم د افغانستان د کډوالۍ ستونزه په بشپړ ډول نه حل کېږي، دا ستونزه به پاتې وي ځکه افغانستان په نړۍ کې شا او خوا لس میلونه وګړي کډوال لري، له دې امله دا ستونزه باید تر هغه وخت پورې وڅېړل شي تر څو موږ په واقعي توګه د دې لپاره د حل یوه معقوله لاره پیدا کړو، خو د دې ډول موضوعاتو څېړل هغه وخت ګټور ثابتېدلی شي چې دا په اړونده ډګرونو کې په هېواد کې د حاکم نظام په سیاستونو او پالیسیو باندې اغېز پرېږدي، که داسې و نه شي نو دا ډول څېړنې به هم د نورو څېړنو په څېر د کتاب خونو د ښکلا لامل شي او بس، نور به هیڅ هم پرې مرتب نه شي، د الله تعالی نه دعا کوم چې موږ له هغه خلکو څخه وګرځوي چې په اړه یې وایي {الَّذِينَ يَسْتَمِعُونَ الْقَوْلَ فَيَتَّبِعُونَ أَحْسَنَهُ} [الزمر: 18].

**د کنفرانس د مقالو په اړه معلومات**

د کډوالو په اړه د کنفرانس اعلان د درنو څېړونکو او استاذانو له لوري ډېر په جدیت، رغبت او خوښۍ سره استقبال شو، د مقالو غوښتنه یې ښه استقبال کړه، د کنفرانس رهبري کمیټې د مقالاتو لپاره تګلاره دا ټاکلی وه چې لومړی باید د محترمو څېړونکو او لیکوالانو څخه وغوښتل شي چې د خپلې مقالې بنسټیز هدف د دوه سوو کلماتو په ترڅ کې مشخص کړي، او د کنفرانس ادارې ته یې راولېږي، د لیکوالانو له لوري رالېږل شوي دا اهداف د کنفرانس د علمي کمیټې له پلوه وکتل شول،

کومو اهدافو چې د کنفرانس د محورونو سره اړخ نه لګاوه او یا په کې د کنفرانس د محورونو په اړه جدي موضوع نه وه مطرح شوې، د هغوی د لیکوالانو څخه معذرت وغوښتل شو، خو بیا هم ګڼ شمېر غوره کړی شول، او په دې توګه د ډېرو محترمو لیکوالانو او څېړونکو له لورې ګڼ شمېر مقالې ولیکل شوې، چې دا زموږ د علمي قشر په ژور احساس دلالت کوي، او دا څرګندوي چې د ملي ستونزو سره د دوی تړاو ډېر مضبوط دی، د تحکیم (ارزونې) د پروسې نه وروسته چې څه شا او خوا اته میاشتې یې ادامه درلوده، او زیات شمېر متخصصینو په کې ونډه درلوده، په لاندې تفصیل ۵۲ مقالې په کنفرانس کې د وړاندې کېدو لپاره ومنل شوې، او د یو زیات شمېر مقالو د نه منل کېدو له امله درنو لیکوالانو، استاذانو او څېړونکو ته معذرت ولېږل شو، موږ پوهېږو چې دې ټولو درنو استاذانو زیات زحمت ویستلی وه، خو د هر کنفرانس خپل معیارونه وي، دا مقالې زموږ په معیار برابرې نه وې، او یا زموږ د کنفرانس د موخو او اهدافو سره برابرې نه وې، د دې معنی دا نه ده چې په دې مقالو کې زیار نه وه ایستل شوی، دا ټولې د قدر وړ مقالې وې.

هغه مقالې چې په کنفرانس کې د وړاندې کېدلو لپاره ومنل شوې، په دې کې د هیواد څخه بهر او دننه د ډېرو پوهنتونونو او ادارو استاذانو او څېړونکو برخه درلوده چې تفصیل یې په لاندې ډول دی:

**لومړی: د هېواد څخه بهر درې مقالې**

د پاکستان پنجاب پوهنتون ۱ مقاله

د انګلستان بولتون پوهنتون ۱ مقاله

د ایران د مجمع اموزش عالی ګلستان ۱ مقاله

**دویم: د افغانستان د علومو اکادمی**

1. د افغانستان د علومو اکادمی ۲ مقالې.

**دریم: د افغانستان د دولتي پوهنتونو څخه ۳۰ مقالې**

1. د هرات پوهنتون ۵ مقالې
2. د ننګرهار پوهنتون ۳ مقالې
3. د کابل پوهنتون ۱ مقاله
4. د کابل د تعلیم او تربیې پوهنتون ۴ مقالې
5. د بادغیس پوهنتون۱ مقاله
6. د پروان پوهنتون ۲ مقالې
7. د بامیانو پوهنتون ۲ مقالې
8. البیروني پوهنتون ۲ مقاله
9. د تخار پوهنتون ۱ مقاله
10. د جوزجان پوهنتون ۱ مقاله
11. د لغمان پوهنتون ۱ مقاله
12. د سمنګان لوړو زده کړو مؤسسه ۲ مقاله
13. د فراه د لوړو زده کړو مؤسسه ۱ مقاله
14. د ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه ۱ مقاله
15. د نیمروز د لوړو زده کړو مؤسسه ۳ مقالې

**څلورم: د افغانستان د خصوصي پوهنتونونو څخه ۱۶ مقالې په لاندې تفصیل سره**

1. سلام خصوصي پوهنتون کابل ۱۱ مقالې
2. سلام خصوصي پوهنتون کندز ۳ مقالې
3. غالب خصوصي پوهنتون هرات ۱ مقاله
4. رڼا خصوصي پوهنتون ۱ مقاله

په دې توګه ویلی شو چې په دې ملي کنفرانس کې د دولتي پوهنتونونو ونډه ستره ده، په ځانګړې توګه د هرات پوهنتون چې په دې کنفرانس کې د یاد پوهنتون پنځو تنو استاذانو مقالې لیکلي دي، همدا راز د سلام پوهنتون کابل د استاذانو او څېړونکو ونډه هم غښتلې ده چې په ۱۴ مقالو په دې کنفرانس کې ګډون کوي، د ټولو لپاره د الله تعالی څخه د توفیق غوښتنه کوم.

**د کنفرانس محورونه او بنسټیز موضوعات**

کوم موضوعات چې په دې ملي کنفرانس کې د څېړنو لپاره وړاندې شوي دي، د څو محورونو په ضمن کې یې لنډیز په لاندې ډول وړاندې کولی شو، چې په دې هر محور کې به د هېواد په دننه او د هېواد څخه بهر لیکوالان او څېړونکي خپلې علمي څېړنې او مقالې وړاندې کوي، او د دې ټولو مقالو څخه په استفادې سره به یوه پالیسي پیپر لیکل کېږي چې د اړوندو جهتونو سره به شریکېږي تر څو یې د تطبیق او عملي کولو لپاره زمینه برابره شي.

**لومړی محور: هجرت او معاصره کډوالي؛ مفهوم، مشترکات او توپیرونه**

دا موضوع یوه اړینه او ضروري موضوع ده ځکه چې کله موږ د مهاجرت کلمه استفاده کوو له دې څخه هغه مفاهیم په ذهن کې مستحضر کېږي چې زموږ په دین، دیني تاریخ او دیني نصوصو او دیني میراث کې د هجرت د کلمې سره تړلي دي، دا لیدل پکار دي چې معاصره کډوالي په کومو ځانګړتیاو کې د هجرت سره یو شانته والی لري، او کوم هغه ځانګړتیاوې دي چې هلته دا یو د بل سره جدا کېږي، په دې اړه به څېړونکي خپلې څېړنې وړاندې کوي چې دا موضوعات په کې په تفصیل سره وڅېړل شي.

**دویم محور: د مسلمان لپاره په غیر اسلامي نړۍ کې اوسېدل او میشته کېدل**

دا خو یو څرګند حقیقت دی چې کله انسانان کډوالۍ ته اړ کېږي او یا کډوالۍ ته زړه ښه کوي نو یو شمېر خلک داسې هېوادونو ته کډه کوي چې هغه غیر مسلمان هېوادونه دي، دې هېوادونو ته هجرت کول، هلته میشته کېدل او د هغو هېوادونو تابعیت اخیستل د یو مسلمان لپاره روا دي او که نه؟ په دې اړه د علماو نظریات متفاوت دي، یو شمېر متشدد خلک شتون لري چې دا ډول کډوالي په مطلق ډول ناروا ګڼي او هغه نصوص پرې تطبیقوي چې د پیغمبر علیه السلام په وخت کې د مکې د فتحې څخه دمخه په مسلمانانو باندې هجرت فرض ګرځوي، او مسلمان ته په غیر مسلمانو ټولنو کې د ژوند کولو جواز نه ورکوي، چې د هجرت د فرضیت دا حکم بیا وروسته د رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې حدیث منسوخ شو چې په کې فرمایي «لا هجرة بعد الفتح» د مکې د فتحې څخه وروسته د هجرت د فرضیت دا حکم نه دی پاتې، یو شمېر نور یې بې له کوم قید او شرط څخه جایز ګڼي، خو یو شمېر نور معتدل علماء دا ډول کډوالي د ضرورت د احکامو څخه شمېري، او نظر یې دا دی چې د شرطونو په نظر کې نیولو سره د شرعي ګټې او تاوان (مصلحت او مفسدې) په نظر کې نیولو سره د کډوالۍ حکم د یو شخص څخه بل شخص ته او د یو حالت څخه بل حالت ته متفاوت کېدلی شي، دا قضیه به هم یو شمېر محترم لیکوالان د خپلو څېړنو موضوع ګرځوي او خپلې تفصیلي څېړنې به په دې کنفرانس کې وړاندې کوي.

**دریم محور: د افغانستان څخه هجرت او کډوالي یوه تاریخي پدېده**

د نړۍ د نورو هېوادونو په څېر دا سیمه چې اوس د افغانستان په نوم پېژندل کېږي له پخوا څخه د هجرتونو سره بلدتیا لري، له دې سیمو څخه بې شمېره علماو هجرت کړی دي، دا علماء مونږ په دوو ډولو ویشلی شو:

أ- د حدیثو، فقهې او نورو شرعي علومو علماء چې له دې سیمې څخه یې هجرت کړی دی، له دې سیمې څخه د اسلامي نړۍ نورو سیمو ته تللي دي، هلته هستوګنه غوره کړې، د شخصیتونو، انسابو او بلدانو اړوند هر یو کتاب چې را واخلئ او د پخوانیو وختونو د مشهورو ښارونو او سیمو (لکه طالقان، بست، غزنة، هراة، بغلان، بدخشان، فاریاب او داسې نورو) لاندې وګورئ بې شمېره محدثین، د رجالو علماء، د جرح او تعدیل امامان، فقهاء، د اصول فقهې علماء او د بېلابېلو علومو د متخصصینو نومونه به وګورئ، خو دا ټول بیا نورو سیمو ته تللي دي، هجرت یې کړی دی، او هلته یې هستوګنه غوره کړې ده، د دوی په اړه به زمونږ لیکوالان او څېړونکي خپلې څېړنې وړاندې کوي، چې په ضمن کې یې باید دا هم وڅېړل شي چې هغه کوم لاملونه ؤ چې دوی یې د دې سیمو څخه د نورو سیمو په لور هجرت ته اړ کړي ؤ، له دې څخه به دا هم څرګنده شي چې دې سیمو اسلامي نړۍ ته څومره لوی شخصیتونه وړاندې کړي دي، او دا به هم را په ګوته شي چې هغه کوم لاملونه ؤ چې له امله یې مونږ د دې شخصیتونو د علم څخه محروم پاتې شوي یو، دوی ته مو په هغه وخت کې ولی د دې فرصت برابر نه کړی شو چې د خپلو علومو څخه د دې سیمې خلک برخمن کړی شي، سره له دې چې دوی دې سیمو ته دومره وفادار ؤ چې تر آخره پورې یې دې سیمو ته په انتساب باندې افتخار کاوه، او د انسابو او جرح او تعدیل او تراجمو په کتابونو کې همدې سیمو ته په انتساب شهرت لري، دا به د دې زمینه هم برابره کړي چې په راتلونکې کې یو شمېر څېړونکي د دې علماو په اړه نور ژورې څېړنې هم وکړي.

ب- له دې سیمو څخه یو شمېر هغو علماو هم هجرت کړی، او له دې سیمو څخه کډه شوي دي چې د طبیعي علومو متخصصین، فیلسوفان، شاعران، لیکوالان او ادیبان ګڼل کېږي، په دوی کې ډېر مشهور نومونه شته دی، دوی ولی هجرت ته اړ شول، ولی په دې سیمه کې پاتې نه شول؟ نا سمې فتواګانې، فقر او فاقې د ژوند ستونزې دوی هجرت او کډوالی ته اړ کړل که نور لاملونه د دې سبب وګرځېدل په دې اړه هم باید محترم لیکوالان خپلې څېړنې وړاندې کړي، تر څو مونږ په راتلونکې کې د هغه څه د تکرار څخه ځان وساتو چې پخوا د هېواد څخه د علماو د کډوالی او هجرت لامل ګرځېدلي دي.

**څلورم محور: په نړۍ کې د افغان کډوالو اوسنی حالت**

زمونږ هېوادوال د نړۍ په بېلابېلو سیمو او هېوادونو کې د کډوال په توګه اوسېږي، د ګاونډیو هېوادونو څخه نیولې په لنډو او لیرو پرتو هېوادونو کې د افغانستان وګړي د کډوالو په توګه ژوند کوي چې په دې لړ کې دا لاندې هېوادونه او سیمې د یادولو وړ دي:

أ- په پاکستان کې افغان کډوال

ب- په ایران کې افغان ګډوال

ت- په منځنۍ آسیا کې افغان کډوال.

ث- په ترکیه کې افغان کډوال

ج- په امریکا او کاناډا کې افغان کډوال

ح- په اروپایی هېوادونو کې افغان کډوال

په دې هېوادونو او سیمو کې څومره افغانان ژوند کوي؟ دا کډوال په څه حالت کې ژوند کوي؟ دوی تر کومې کچې د بنسټیزو حقونو څخه برخمن دي؟ دا افغان کډوال چې په دې سیمو او هېوادونو کې ژوند کوي د څه ډول ستونزو سره لاس او

گریوان دي، زموږ د دې هېوادوالو پر وړاندې د کوربه هېوادونو سیاستونه په څه ولاړ دي؟ زموږ کډوال هېوادوال څه فرصتونه لري؟ د دې هېوادوالو د ستونزو په حل کې د نړیوالو ادارو او ملګرو ملتونو رول څه دی؟ زموږ د مهاجرو هېوادوالو په وړاندې دا اداري په واقعي توګه خپل مسؤولیتونه سرته رسوي؟ دا هغه قضیې دي چې زموږ محترم څېړونکي به د دې په اړه خپلې څېړنې وړاندې کوي، د دې په نتیجه کې به موږ ته دا را په ګوته شي چې د نړۍ په کچه د کډوالو افغانانو حالت څه دی، دوی په انساني ظروفو کې ژوند کوي او که د خپلو بنسټیزو حقونو څخه هم محروم دي؟ د دوی د ستونزو د هوارولو لپاره څه ممکن دي؟ نړیوالې اداري باید څه رول ولوبوي؟ د افغانستان اسلامي امارت په دې اړه څه مسؤولیت لري؟ او څه کولی شي؟ دا هغه پوښتنې دي چې څېړونکي او لیکوالان به یې په خپلو لیکنو او مقالو کې وڅېړي او په دې اړه به د یو څرګند انځور د وړاندې کولو هڅه به وکړي.

**پنځم محور: په تېره نیمه پېړۍ کې د افغانانو د کډوالۍ لاملونه**

په تیرو پنځوسو کلونو کې په بېلابېلو وختونو کې زیات شمېر افغانان له افغانستان څخه بهرنیو هېوادونو ته کډه شول، تر ټولو لوی شمېر افغانان هغه وخت کډوالۍ ته اړ شول چې په افغانستان کې کمونستانو کودتا وکړه او د افغانستان د متدین ملت د مقاومت سره مخ شول چې په پایله کې د هغه وخت نړۍ یو لوی ځواک شوروي اتحاد پر افغانستان نظامي یرغل وکړ، او همدا د افغانستان د ملت لپاره د کډوالۍ د ناورین پیل وه، دویم ځل هغه وخت یو شمېر خلک کډوالۍ ته اړ شول چې د کمونستانو نظام د مجاهدینو په لاس سقوط وکړ، او د مجاهدینو ترمنځ خپل منځي شخړې پیل شوی، په دې وخت کې په لویو ښارونو کې زیات شمېر اوسېدونکي کډوال شول، بیا کله چې په افغانستان کې اسلامي امارت واګې په لاس کې واخیستې زیات شمېر خلک پاکستان او اروپایي هېوادونو ته کډوال شول.

بیا چې د امریکا او د هغې د متحدینو له لورې په افغانستان تېرى وشو او اسلامي امارت سقوط وکړ یو شمېر نور خلک له افغانستان څخه کډوال شول، بیا چې کله جمهوریت ړنګ شو او د چارو واګې د افغانستان اسلامي امارت په لاس کې واخیستې یو شمېر زیات افغان وګړي کډوال شول چې دا لړۍ لا تر اوسه پورې دوام لري.

دا مهاجرتونه په بېلابېلو وختونو کې بېلابېل لاملونه لري، همدا راز د یوې مجموعې څخه بلې مجموعې ته د کډوالۍ او مهاجرت لاملونه متفاوت دي چې په ټوله کې د دې مهاجرتونو او کډوالیو لاملونه په لاندې ډول په لنډه توګه وړاندې کولی شو:

**لومړی: د افغانانو د کډوالۍ سیاسي لاملونه**

په تېرو شا او خوا پنځو لسیزو کې چې د کډوالۍ څومره څپې زموږ په هېواد راغلي د هغوی تر شا په قوت سره سیاسي لاملونه شتون لري، بلکې که دا ووایو چې تر ټولو ستر لامل یې سیاسي وه نو له حقیقت څخه په ډېره لرې نه وي، د دې سیاسي لاملونو په ترڅ کې لاندې ټکو ته اشاره کولی شو:

أ- په افغانستان باندې د بهرنیو استعماري قوتونو تېرى، په تېرو پنځو لسیزو کې افغانستان دوه ځله اشغال شو، د تېرې پېړۍ په اتمه لسیزه کې د شوروي اتحاد له لورې اشغال شو چې په نتیجه کې یې د هجرت ډېر شدیده څپه زموږ پر هېواد راغله، او د هېواد درېمه برخه وګړي د شورویانو او کمونستانو د وحشت په نتیجه کې کډوالۍ ته اړ شول، او بیا د دې پېړۍ په لومړیو دوو لسیزو کې د امریکا د اشغال لاندې پاتې شو چې په دې موده کې یو شمېر کډوال بېرته خپل هېواد ته را ستانه شول، خو یو شمېر نور بیا هجرت ته اړ کړی شول او هجرت یې وکړ، په دې توګه ویلی شو چې د هېواد اشغال زموږ په هېواد کې د کډوالۍ د بنسټیزو لاملونو څخه شمېرل کېږي.

ب- سیاسي استبداد او د یوې ځانګړې ایډیالوژۍ په خلکو په زوره تپل د افغانستان څخه د خلکو د کډه کولو یو لوی لامل وه، هغه وخت چې په کال ۱۳۵۷هـ ش کال کې کمونستانو کودتا وکړه، د کمونیزم د منلو لپاره په افغانستان کې هیڅوک هم

تیار نه وه، خو دوی هڅه وکړه چې د ټوپک په زور په خلکو خپله الحادي نظریه مسلطه کړي چې د دې په نتیجه کې د هېواد څخه زیات شمېر خلک کډه کولو ته اړ شول، همدا راز هر څوک چې د سیاسي استبداد له لارې هره نظریه په خلکو مسلط کول وغواړي د هغه نظریې سره مخالف خلک به په طبیعي توګه کډه کولو ته اړ کېږي.

ت- په یو حزبي حکومت او نظام اصرار د کډوالۍ یو بل مهم لامل دی، په تېرو ترخو تجربو کې زموږ د هېواد څخه د کډوالۍ یو مهم لامل دا پاتې شوی چې سیاسي تنظیمونو په دې اصرار کړی چې د ځان څخه پرته بل څوک په حکومت او هېواد کې نه مني، لومړی پیل یې د کمونستانو له لوري وشو، او له هغه را وروسته په پرله پسې توګه دا تجربه کوو او دا زموږ د هېواد څخه د پوهانو او عامو خلکو د کډه کولو لامل ګرځېدلی او تر اوسه پورې ګرځي.

ث- د دې پر ځای چې حکومتونه د قانون پر بنسټ بدل شي د کودتا ګانو او زور له لارې د حکومتونو د بدلولو پرله پسې واقعات د دې لامل شوي چې زموږ د هېواد ډېر خلک د هېواد څخه کډه کولو ته اړ شي، ځکه هر حکومت چې په زور راځي هغه داسې تصور کوي چې هېواد مې په زور نیولی دی، او هر ډول مقاومت مې له منځه وړی، او هیڅوک هم د مقاومت توان نه لري، نو هر څه چې زه غواړم هغه به په کې پلی کېږي، او که څوک یې را څخه په زور اخیستلی شي نو دا ګز او دا میدان، او دا خبره د ډېرو خلکو لپاره د منلو وړ نه وي، نو په نتیجه کې دا د هغوی د هېواد څخه د کډه کولو لامل ګرځي، ځکه خلک د یو قانون لاندې ژوند کول غواړي، د چا د شخصي او فردي سلیقې غلامي ډېر خلک نه مني، دا ډېرو خلکو په تکرار سره تجربه کړه خو تر اوسه موږ ترې درس تر لاسه نه کړی شو.

ج- کورنۍ جګړې یو بل هغه لامل دی چې زموږ د هېواد څخه د خلکو د کډوالۍ لامل ګرځېدلی، په دې باندې زموږ د تیرو پنځوسو کلونو تاریخ شاهد دی.

ح- د تېرو پنځوسو کلونو په جریان کې په بېلابېلو وختونو کې په واقعي بڼه د یو مشروع او قانون مند حکومت نشتوالی یو د هغو لاملونو څخه وه چې زموږ ډېر خلک یې د هېواد څخه کډه کولو ته اړ کړي دي، یو قانون مند حکومت څلور ځانګړتیاوې لري:

1. لومړی ځانګړتیا: د اساسي قانون شتون چې دا په اسلام کې هم شتون لري، ځکه له دې څخه دا مراد دی چې هغه بنستیز اصول وټاکل شي چې هېواد باید د هغه سره سم اداره شي، په دې کې څه منصوصي شیان دي او څه چې د مصلحت او مفسدې پورې تړاو ولري او یا د السیاسة الشرعیة سره تړاو ولري هغه برخې د هغه سیمې د خلکو اجتهاد ته شریعت پرې ایښې دي.
2. دویمه ځانګړتیا: د قوانینو او قانوني قواعدو تدرج، په دې معنی چې ټول قوانین باید یو پر بل باندې بنا وي، هیڅ لاندې قانون باید د بره قانون سره په مخالفت کې قرار و نه لري او دا هغه وخت ممکن دی چې لومړی اساسي قانون موجود وي چې دا ټول اداري او حقوقي چوکاټ مشخص کړي، نو بیا به نور قوانین د هماغه چوکاټ په دائره کې جوړېږي.
3. دریمه ځانګړتیا: دې قانون ته باید اداره او حکومت هم په هماغه کچه ژمن او تابع وي لکه څومره چې د ټولنې او هېواد عام وګړي ورته تابع وي، د حکومت مشروعیت همدې قانون ته د غاړې په ایښودو او نه ایښودو اندازه کېږي، په دې معنی چې هر څومره اداره او حکومت دې قانون ته ژمن او تابع وي په هماغه اندازه به یې خپل مشروعیت ساتلی وي، او په هره اندازه چې دا قانون تر پښو لاندې کوي په هماغه انداز به یې مشروعیت له لاسه ورکړی وي، او که دا قانون اصلا شتون و نه لري نو هلته بیا د مشروعیت پوښتنه اصلا مطرح نه ده.

4. څلورمه ځانګړتیا: د هېواد د اوسېدونکو د بنسټیزو فردي، ټولنیزو، اقتصادي او سیاسي حقونو ساتنه، په هره کچه چې دا حقونه خوندي وي په هماغه اندازه یو حکومت مشروع ګڼل کېږي، او هر څومره چې دا حقونه د پښو لاندې شي په هماغه اندازه به هغه حکومت غیر مشروع ګڼل کېږي.

خ- په هېواد کې د سیاسي فعالیتونو ضعف، خلک د سیاسي حقونو څخه محرومول، ملت د هېواد په اړه د فیصلو څخه بې برخې کول، هر ډول فیصلې ملت ته د مراجعې پر ځای په فردي نظر او سلیقې سرته رسول هم د دې لامل ګرځېدلی چې سیاسي بې ثباتي رامنځته کړي او خلک د افغانستان څخه کډه کولو ته اړ کړي.

**دویم: د افغانانو د کډوالۍ امنیتي لاملونه**

یو شمېر خلک د امنیتي ستونزو له امله د افغانستان څخه نورو هېوادونو ته کډوالۍ ته اړ شوي دي، او دا زموږ په تیر پنځوس کلن تاریخ کې ډېر څرګند لامل دی، په دې لړ کې لاندې فرعي لاملونه په ګوته کولی شو:

أ- د کمونستانو د کودتا نه وروسته داسې حالات رامنځته شول چې زیات شمېر خلک د زندانونو او وژنو د وېرې له امله هېواد څخه کډه کولو ته اړ شول، ځکه کمونستانو به په ټولنه کې له ځان څخه پرته بل هیڅوک نه شو تحمل کولی، څوک به یې د ملا په نوم، څوک به یې د تورې ارتجاع په نوم، څوک به یې د فیوډال په نوم او څوک به یې د اخواني په نوم نیول او د تعذیب لاندې به یې له منځه وړل، همدا راز دې لړۍ په نورو وختونو کې هم ادامه پیدا کړه، د امریکایانو د استعمار په وخت کې هم ډېر زیات خلک د زندان او تعذیب له وېرې کډه کولو ته اړ شول، همدا راز وروسته هم دا لړۍ دوامداره پاتې شوه، څوک په یو نوم او څوک په بل نوم نیول کېږي او د تعذیب لاندې اچول کېږي، دا ټول کارونه د ټولنې د امنیت د تامین تر نامه لاندې سرته رسېږي، چې دا په ټولنه کې ستره وېره خپرو ي او زیات شمېر خلک له همدې امله د هېواد څخه کډه کولو ته اړ کېږي.

ب- د تېر پنځوس کلن تاریخ په جریان کې جنګونه او جګړې هغه څه دي چې زموږ زیات هېوادوال یې کډه کولو ته اړ کړل، په ځانګړې توګه هغه جنګونه چې د حکومتونو له لورې به په لاره اچول کېدل، دا جنګونه به د شدیدو بمبارونو، بېلابېلو سیمو ته د عسکري قوو او چاپو تللو سره یو ځای وی، د دې په نتیجه کې به د وېرې یوه توره فضا خپره وه او خلک به یې کډوالۍ ته اړ کول.

ت- کورنۍ جګړې او تنظیمي جنګونه، په تېرو پنځو لسیزو کې افغانستان د زیاتو کورنیو جګړو او تنظیمي جنګونو شاهد وه، چې د دې په نتیجه کې زموږ زیات شمېر هېوادوال له هېواد څخه کډه کولو ته اړ شول، په ځانګړې توګه له هغو ښارونو او سیمو څخه چې د دې کورنیو او تنظیمي جنګونو ډګرونه ؤ.

**دریم: د افغانستان څخه د کډوالۍ ټولنیز لاملونه**

په افغانستان کې په تېرو پنځو لسیزو کې ډېر داسې ټولنیز لاملونو شتون درلود چې د هېواد څخه زموږ د یو شمېر هېوادوالو د کډه کولو لامل وګرځېدل، په دې لړ کې لاندې فرعي لاملونو ته اشاره کولی شو:

أ- تنظیمي اختلافات، زموږ زیات شمېر هېوادوال له دې امله کډوالۍ ته اړ شوي او اړ کېږي چې زموږ د ملت ټولنیزه رویه د اعتدال څخه وتلې ده، موږ هر یو په فرعي او په هغو اختلافي مسئلو کې چې شریعت په کې د اختلاف او د نظر د تعدد حق ورکوي، په داسې مسئلو کې هر حاکم نظام او هر مقتدر ګوند په دې عقیده وي چې حق زما په انحصار کې دی، خلک به یا ما سره موافق وي او یا به په دې هېواد کې او زما د قلمرو لاندې سیمه کې د ژوند حق نه لري، دا هغه ټولنیزه رویه ده چې په تیرو پنځو لسیزو کې زموږ د ډېرو هېوادوالو د کډوالۍ لامل ګرځېدلې ده او لا یې هم لامل ګرځي، او که دا رویه سمه نه کړو نو په راتلونکې کې به هم همداسې د ستونزو د را ولاړېدو لامل ګرځي.

ب-  د نظامونو او حکومتونو له لوري خپل مخالفین ځپل، بندیان کول او وژل هغه امنیتي ستونزې وی چې په تېرو پنځو لسیزو کې یې زموږ زیات هېوادوال خپلو کورونو پرېښودلو ته اړ کړي دي، او لا هم دا لړۍ روانه ده.

ت-  د قانون مند نظام نشتوالی، او یا په درست ډول د قانون نه پلي کېدل د هېواد څخه د کډوالۍ یو بل مهم لامل دی، ټولنه هغه وخت د ټولنیز امنیت احساس کوي، چې په یوې ټولنه کې یو درست او عادلانه قانون شتون ولري، بلکې یواځې د قانون شتون هم کفایت نه کوي بلکې دا قانون باید په سمه توګه په حاکم او رعیت دواړو باندې په سم ډول تطبیق شي، او په دې اړه د ټولنې شعار د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا مبارک قول وي چې ویل به یې: «وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ، لَوْ أَنَّ فَاطِمَةَ بِنْتَ مُحَمَّدٍ سَرَقَتْ لَقَطَعْتُ يَدَهَا»[2] په هغه ذات مې قسم چې د محمد (صلی الله علیه وسلم) روح د هغه په قبضه کې دی که فاطمه د محمد (صلی الله علیه وسلم) لور هم غلا وکړي نو لاس به یې پرې کړم. خو په کومه ټولنه کې چې قانون شتون و نه لري، او یا هم که شتون ولري خو په سمه توګه پلی کېږي نه په داسې یوه ټولنه کې به څرنګه خلک د ټولنیز امنیت احساس وکړي، ځکه قانون د ټولنیز امنیت یوه بنسټیزه وسیله ده، که قانون نه وي او سلیقه حاکمه وي، او یا قانون وي خو هغه په سلیقوي ډول پلی کېږي، د هغه لپاره د قضا او پلټنې مستقل نظام شتون و نه لري هلته خلک مطمئن نه شي پاتې کېدلی او دا حالت هېوادوال دې ته اړ کوي چې له هېواد څخه کډه وکړي.

ث-  د ټولنیزو حقونو څخه د خلکو محرومول، د تېرو پنځو لسیزو څخه تر اوسه پورې په پرله پسې توګه د حاکمو نظامونو او مسلطو تنظیمونو له لوري خلک د خپلو ټولنیزو حقونو څخه محرومېږي چې دا د هېواد څخه زموږ د ډېرو هېوادوالو د کډوالۍ لامل ګرځي، ځکه همدا حقوق دي چې انسان ته د انسان په توګه د ژوند کولو خوندي چاپېریال برابروي، او دا حقونه چې په کومه ټولنه کې خوندي نه وي هلته زیات شمېر خلک د ستونزو سره مخ کېږي. په دې حقونو کې شخصي ازادۍ لکه د یو انسان په توګه د هغه کرامت او عزت { وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ} [الإسراء: 70] یو ځای څخه بل ځای ته د سفر او تنقل حق، د امنیت حق چې څوک بې له قانوني جواز څخه نه څوک وه وهلی شي نه یې بندي کړی شي او نه پرې بدني تېری وکړی شي، د کور او مسکن امنیت لکه شریعت چې دې ته احترام ورکړی دی چې نه یې څوک د قضا د حکم څخه پرته تلاشي کړی شي او نه ورته څوک د کور د څښتن له اجازې پرته ور ننوځي، د پیغامونو او مراسلاتو سریت په دې معنی چې څوک د دې حق نه لري چې څوک د چا تلفوني مکالمې او نور پیغامونه واوري او ځانته دا حق ورکړي چې د قانون څخه پرته د خلکو پیغامونه تر څارنې لاندې ونیسي. د فکري ازادیو څخه د خلکو محرومول، په دې کې د غیر مسلمانو اقلیتونو ته د عقېدې ازادي هم شامله ده په دې معنی چې څوک په زور د هغه له عقیدې څخه نه شي ګرځولی او نه یې په زور مسلمانولی شي، د تعلم او تعلیم حق په اسلام کې دا یو بنسټیز حق دی، دا یواځې حق نه بلکې په بعضې حالاتو کې د یو مسؤولیت او فرض حیثیت غوره کوي، له دې حق څخه شرعا څوک هیڅ مسلمان نه شي محرومولی، د بېلابېلو لارو نه د خپل نظر د ښکاره کولو حق، هغه که په فردي ډول و ي او که د رسنیو له لارې وي، په دې خو موږ ټول پوهېږو چې په یوې اسلامي ټولنه کې دا ټول حقونه د شریعت په چوکاټ کې سرته رسېږي، خو شرط یې دا دی چې دا چوکاټونه څوک د خپلې سلیقې پر بنسټ مشخص نه کړي. د تجمع او راټولېدو حق، په دې معنی چې شریعت د تجمع حق هغه که موقته تجمع وي او که دائمي تجمع وي، اجازه ورکوي، موقته تجمع لکه د جمعې د لمانځه لپاره راټولېدل، یا د رسول الله صلی الله علیه وسلم د عظمت څخه د دفاع په خاطر په یوه مظاهره او مجلس کې راټولېدل، مظاهره کول او یا هم د هغه مبارک سیرت اورېدل، او دائمي تجمع لکه د ښه کارونو لپاره یوه ټولنه او حزب جوړول او یا یوه جبهه رامنځته کول، دا ډول تجمعات په اسلامي شریعت کې د دې تجمعاتو د هدف پورې تړلي دي، که د تجمع هدف سم او د شریعت سره برابر وي نو تجمع جواز لري او که د شر د خپرولو لپاره وي او هدف یې د شریعت

---

[2] - صحيح البخاري (5/ 151) د طوق النجاة د مطبعې چاپ.

سره په ټکر کې وي نو هغه نا سم بلل کېږي، دا په اسلامي ټولنه کې د وګړو حق دی، د دې حق څخه د خلکو محرومول د هېواد څخه د کډوالۍ لامل ګرځېدلی او ګرځي. همدا راز اقتصادي ازادۍ چې د تملک حق، د خپل ځان لپاره د کار، صنعت، حرفې د انتخاب ازادي، همدا راز د خلکو په ملکیت باندې د تېري څخه د خوندیتوب حق دی چې دا ټول ټولنیز حقونه دي چې که په کومه ټولنه کې شتون و نه لري هغه ټولنه د خلکو د ژوند لپاره خوندي ټولنه نه بلل کېږي او په نتیجه کې ترې خلک کډه کولو ته اړ کېږي.

ج- په ځانګړې توګه د تعلیم د حق څخه د ټولنې د نیمايي برخې محرومول ډېر زیات خلک د هېواد پرېښودلو او کډوالۍ ته اړ کړي دي، هغه کورنۍ چې لورګانې لري هغوی په ډېر زیات شمېر کې ګاونډیو هېوادونو ته کډه کړې.

**څلورم: د هېوادوالو کډوالۍ اقتصادي او معیشتي لاملونه**

په تېرو پنځو لسیزو کې ډېر زیات شمېر خلک زموږ له هېواد څخه د اقتصادي ستونزو له امله کډوالۍ ته اړ شوي دي، اقتصادی لاملونه په لنډ ډول په لاندې توګه په ګوته کولی شو:

أ- فقر او غربت، زموږ زیات شمېر هېوادوال د زیات فقر او غربت سره مخ ؤ او لا تر اوسه هم ورسره مخ دي، په تېرو وختونو کې زموږ یو شمېر هېوادوالو د غربت له امله خپل ماشومان خرڅ ته وړاندې کړي دي، تر دې چې په څه راپورونو کې داسې هم راغلي چې خلکو د مړو هډوکي خرڅ کړي دي تر څو یوه لقمه ډوډۍ د ځان لپاره پیدا کړي، د کمونستانو، او بیا د مجاهدینو او ورپسې د اسلامي امارت په لومړي دور کې خلک د ډېر سخت اقتصادي حالت سره مخ ؤ چې دا د هېواد څخه د کډوالۍ یو لوی لامل وه، اوس هم یو شمېر خلک له هېواد څخه له همدې امله کډه کوي چې د فقر او غربت سره مخ دي او اقتصادي حالت یې ډېر خراب دی، او یو شمېر ځوانان په فردي توګه بهرنیو هېوادونو ته په سختو لارو سفر کوي تر څو خپله کورنۍ د بد اقتصادي حالت څخه وژغورلی شي.

ب- بې کاري او د کاري فرصتونو نشتوالی د کډوالۍ یو بل لامل دی، زموږ په هېواد کې له دې امله چې خصوصي سکتور هم د ستونزو سره مخ دی، په کافي اندازه کارخانې شتون نه لري، نور اقتصادي فرصتونه ډېر کم دي، بهرنیو شرکتونو ته د پانګونې فرصتونه ډېر کم دي، داسې قوانین نه لرو چې پانګونه تشویق او حمایت کړي، او په دولتي سکتور کې کاري فرصتونه ډېر محدود دي، هلته هم ځانګړو خلکو ته د کار فرصت ورکول کېږي، له دې امله په هېواد کې د بې کارۍ کچه پورته ځي او خلک او په ځانګړې توګه تحصیل کړي او مهارت درلودونکي ځوانان له هېواد څخه بهر ته کډه کوي او هېواد پرېږدي.

ت- د اقتصادي فرصتونو کموالی یو بل لامل دی چې خلک له هېواد څخه کډه وکړي، د داسې قانوني او سیاسي چاپېريال نه شتون چې د افغانستان خلکو ته تاجرانو او پانګه اچوونکو ته د اقتصادي پرمختګ فرصتونه برابر کړي، هېوادوال په ځانګړې توګه هغه خلک چې د دې اقتصادي فرصتونو په لټه کې دي له هېواد څخه بهر ته کډه کوي، تر اوسه پورې داسې سیاستونه د تحقیق پر بنسټ باندې نه دي تاکل شوي چې د هېوادوالو لپاره ښه اقتصادي فرصتونه څنګه برابرېدلی شي چې دې د هېواد څخه د پانګې او پانګوالو تېښته زیاته کړې ده.

ث- په هېواد کې د مناسبو خدماتو کموالی هم یو د هغو لاملونو څخه دی چې په تېرو لسیزو کې یې خلک کډوالۍ ته اړ کړي دي، زموږ د تعلیم ادارو سویه ډېره ضعیفه ده، هغه خلک چې د خپلو اولادونو لپاره د ښه تعلیم په لټه کې دي هغوی د هېواد څخه بهر کډه کولو ته اړ کېږي، همدا راز په هېواد کې د تحصیلي بنسټونو سویه د سیمې د هېوادونو د تحصیلي بنسټونو د سویې سره هم نه ده برابره نو د ښه تحصیل لپاره خلک بهر ته کډه کوي، همدا راز صحي اسانتیاوې هم ډېرې کمې

او د نشت سره برابرې دي چې دا هم يو شمېر خلک د هېواد څخه بهر کډه کولو ته اړ کوي، همدا راز نورې ټولې اسانتیاوې او خدمتونه یو د هغو لاملونو څخه دي چې هېوادوال د هېواد څخه کډه کولو ته اړ کوي.

ج- طبیعي پېښې يو د هغو معیشتي لاملونو څخه دي چې زموږ يو شمېر هېوادوال يې کډوالۍ ته اړ کړي دي، د هېواد په بېلابېلو برخو کې د سېلابونو، زلزلو، وچکالیو له امله په تېرو پنځو لسیزو کې زموږ زيات شمېر هېوادوال له هېواد څخه کډوالۍ ته اړ شوي دي، په ځانګړي ډول هغه هېوادوال چې د ژوند ټول دارومدار يې په زراعت او مالدارۍ وه د اوږدو وچکالیو له امله کډوالۍ ته اړ شوي.

ح- د دې ترڅنګ د نړيوالې ټولنې غفلت او بې غوري يو د هغو بنسټيزو لاملونو څخه دی چې د ډېرو داسې لاملونو علاج يې کولی شو، او په دومره لویه کچه د کډوالۍ مخنیوی يې کولی شو، خو په هيڅ شکل يې د افغانستان د اوسېدونکو لاس نیوی نه دی کړی، دې هم د کډوالۍ د کچې په لوړوالي کې رول لرلی دی.

پنځم لامل: په نورو هېوادونو کې د اوسېدو جذابیت

زموږ يو شمېر هېوادوالو له دې امله له هېواد څخه کډه کړې چې په نورو هېوادونو کې په ځانګړې توګه په پرمختللی هېوادونو کې ژوند ورته ځانګړې جذابیت لري، یا دوی داسې تصور کوي چې هلته به ژوند ډېر ښه وي، په هغه ټولنو کې قانون مندي، د ژوند اسانتیاوې، د ژوند په بېلابېلو اړخونو کې فرصتونه، د تحصیل زمينه او داسې نور هغه څه دي چې څه خلک کډوالۍ ته هڅوي.

د دې ټولو لاملونو څېړل ځکه اړين دي چې دا موږ ته د دې فرصت برابروي چې د کډوالۍ د ستونزې ريښو ته ورسېږو، او ستونزه له ريښو څخه معالجه کړو. له همدې امله دا يو ډېر مهم او بنسټيز محور دی چې زموږ ګڼ شمېر لیکوالان او څېړونکي به په همدې اړه خپلې ليکنې په کنفرانس کې وړاندې کړي.

**شپږم محور: په هېواد باندې د کډوالۍ اغېزې**

په مخکې محورونو کې چې کومو لاملونو ته اشاره وشوه د هغې تر څنګ باید هغه مثبتې او منفي اغېزې هم وڅېړل شي چې په هېواد او افغاني ټولنه باندې د افغانانو د کډوالۍ او به بهرنیو هېوادونو کې د افغانانو د اوسېدو په نتیجه کې مرتبېږي، دا اغېزې به يو شمېر محققين او ليکوالان د خپلو مقالو موضوع ګرځوي او په دې اړه به ليکنې کوي، دا اغېزې موږ په لاندې توګه په ګوته کولی شو:

لومړی: اقتصادي اغېزې

بهرنیو هېوادونو ته د افغانانو د کډوالۍ او په بهر کې د پاتې کېدو له امله په هېواد باندې ډېرې مثبتې او منفي اقتصادي اغېزې پربوځي، چې ډېرې مهمې يې په لاندې ډول دي، خو دا باید په نظر کې ونيسو چې منفي اغېزې يې د مثبتو اغېزو څخه زياتې دي:

لومړی: بشري قوه ضعيفه کېږي او مسلکي او عقلي بشري قوه له هېواد څخه فراري کېږي: هر هېواد په اقتصادي توګه داسې بشري قوې ته اړتيا لري چې د ټولنې د اړتيا وړ خدمات وړاندې کړی شي چې د هېوادوالو د کډوالۍ له امله دا قوه د ضعف سره مخ کېږي، او په ډېرو سکتورونو کې خو کله کله حالت دې ته رسېږي چې د هغه سکتور څخه د خلکو او ټولنې اعتماد پورته کېږي، د کډوالۍ په نتيجه کې ډاکټران، د پوهنتونونو استاذان، انجينران، د اداري متخصصين او بېلابېلو خدماتي او تخصصي سکتورونو کې خدمت کوونکي افراد له افغانستان څخه بهر ته ځي، چې دا تشه ډکول ډېر ګران کار دی.

دويم: د کورنيو عوايدو لړوالی: ډېر هغه خلک چې بهر ته کډوال کېږي زيات بډای خلک دي چې که په هېواد کې پاتې وی نو موجوديت به يې د کورنيو عوايدو د لوړوالي لامل ګرځېدلی وی.

دریم: د بازار او سوداګرۍ ضعیف کېدل: دا خو څرګنده خبره ده چې د هېواد اقتصاد په عرضه او تقاضا ولاړ دی، او تقاضا هغه وخت لوړه وي چې مصرف کوونکي زیات وي، خو کله چې د هېواد وګړي له هېواد څخه بهر ته کډوال کېږي په ټولنه کې تقاضا کمزورې کېږي، چې دا بیا په تولیدونکو، بزګرانو او سوداګرو په فعالیت منفي اغېز کوي او له دې سره اقتصاد کمزورې کېږي.

څلورم: د پانګې تښتېدل: دا خو څرګنده خبره ده چې د کډوالۍ سره د کډوالو پانګه هم بهرنیو هېوادونو ته منتقل کېږي او په دې توګه د هېواد څخه پانګه تښتي، او د پانګې د کموالي له امله په هېواد کې اقتصادي پروژې په لاره اچول ګران وي، د هېواد څخه ډېرې زیاتې کورنۍ د ډېرو زیاتو پانګو سره بهرنیو هېوادونو ته کډوال شول، که موږ یواځې د یو افغان پانګوال هغې پانګې ته وګورو چې په عربي اماراتو کې کړې ده نو دا خبره به ډېر څرګند ډول واضحه شي، که همدا پانګه په افغانستان کې پاتې وی شاید ډېرې ملي پروژې پرې پرمخ وړل شوی وی.

پنځم: په بېلابېلو تولیدي او اقتصادي سکتورونو د کډوالۍ ناوړه اغېزې: د کډوالۍ له امله د کار بازار ته ډېر زیات زیانونو رسېږي او ډېر زیات سکتورونه د کډوالۍ له امله متضرر کېږي، لکه د زراعت، صنعت او خدماتو سکتورونه، او دا ځکه چې په دې سکتورونو کې کار کوونکي کډوال کېږي او د هغوی د ځای د ډکولو لپاره څوک نه وي.

شپږم: یوه لویه ګټه چې د کډوالۍ څخه هېواد ته رسېدلی شي هغه هېواد ته د بهرنیو اسعارو انتقال دی، خو دا غالبا هغه وخت صورت نیسي چې نیمایي کورنۍ په هېواد کې وي او څه وګړي یې بهر وي، په دې صورت کې په هېواد کې د خپلو کورنیو غړو ته پیسې رالېږي چې دا د هېواد د اقتصاد په رشد کې مهم رول لوبوي، د نړیوال بانک د ۲۰۲۱م کال د راپور سره د هغه مبلغ اندازه چې له بهر څخه هېواد ته را استول شوي ۀ (۵۰۰) میلونه وه چې دا د هېواد د ټول (GDP) ۴٪ فیصده کېږي.

**دویم: ټولنیزې پایلې:**

د کډوالیو له امله زموږ هېواد د ډېرو ناوړه ټولنیزو پایلو سره مخ کېږي، څه پایلې شاید مثبتې هم وي، لکه نوې تجربې لاس ته راوړل او نوي ښه ټولنیز عادتونه خپلول، نوې ژبې یادول، د نوو فرهنګونو سره آشنا کېدل، مسلکي اړیکې جوړول، د تعلیم او تحصیل ارزښت ته پاملرنه زیاتېدل، د ښه تعلیم او تحصیل زمینې برابرېدل، د نورو ټولنو څخه د منظم ژوند لارې چارې یادول، د ټولنیز عدالت، قانون منډۍ او مسؤولیت پذیرۍ تجربې تر لاسه کول، د خپل چاپېریال د پاک ساتلو فرهنګ یادول او داسې نور خو منفي پایلې یې زیاتې دي چې دلته موږ زیات په منفي پایلو ترکیز کوو:

لومړی: د کورنیو جوړښت ته زیان رسېدل: کله چې د کډوالۍ په نتیجه کې کورنۍ نیمه شي، څه وګړي یې کډوال او څه یې په هېواد کې پاتې شي دا ډېرې ټولنیزې ستونزې او بدې پایلې رامنځته کوي، په ځانګړې توګه چې کله نارینه کډوال شي او ښځه او ماشومان یې په هېواد کې پاتې شي، د دې په نتیجه کې عاطفي تشه رامنځته کېږي، د ماشومانو تعلیم او تربیه اغېزمنه کېږي، او کورنۍ په ټولنیزه توګه د ژوند ثبات او استقرار له لاسه ورکوي.

دویم: کډوالي ټولنیز جوړښت او پیوستون له منځه وړي: د کډوالۍ په نتیجه کې غالبا هغه خلک چې کډوال کېږي په خپل هېواد کې د خپل کلي او ولس څخه منقطع کېږي، خپل کلیوال، ګاونډیان او د خپل ولس د خلکو سره اړیکې نه شي پاللی او په نتیجه کې دا اړیکې له منځه ځي او په دې توګه ټولنیز پیوستون کمزورې کېږي.

دریم: د مورنیو ژبو زیانمن کېدل: هغه هېوادوال چې په بهرنیو هېوادونو کې کډوال دي هغوی پخپله او د هغوی اولادونه خپلې مورنۍ ژبې له لاسه ورکوي، په ځانګړې توګه هغه وخت چې د کور مشران دې ته زیات اهمیت ورکوي چې ماشومان او اولادونه یې په کوربه ټولنو کې په بشپړ ډول ادغام شي چې څوک ورته د کډوال خطاب و نه کړي او د کډوال په سترګه ورته و نه ګوري، موږ او تاسې ولیدل چې په دې لنډ پاکستان کې څومره افغان ماشومان په مورنیو ژبو تکلم نه شي کولی، په

انګلستان کې یو افغان کډوال را ته له دې شکایت کاوه چې هلته د کډوالو اولادونه په خپلو منځونو کې په انګلیسي خبرې کوي او د کورنیو له پلوه د هڅو سره سره په خپلو منځونو کې په مورنیو ژبو سره تفاهم نه کوي.

څلورم: د ارزښتونو ټکر او کلتوري اغېزې: ډېر ځله کډوال د بهرنیو ټولنو کلتورونه، دودونه او د ژوند د طریقو ځنې دومره اغېزمن کېږي چې هغه یې د فکري تکوین برخه ګرځي، او دا ټول بیا د افغاني ټولنې له دود، دستور او کلتور سره په ټکر کې واقع وي، دا ټکر کله د کورنۍ په دننه کې هم رامنځته کېږي او کله کله د ټولنې په کچه رامنځته کېږي چې په دواړو صورتونو کې یا د کورنۍ په کچه او یا هم د ټولنې په کچه د ګډوډیو لامل ګرځي.

پنځم: د دیني او ملي هویت زیانمن کېدل: هغه خلک چې په کډوالۍ کې ژوند کوي دوی او د دوی راتلونکي نسلونه په ډېره مشکله خپل دیني او ملي هویت ساتلی شي، په ځانګړې توګه په هغو ټولنو کې چېرته چې دین په ژوند کې مرکزي حیثیت نه لري، او یا یې وګړي غیر مسلمانان دي، کله چې دا کډوال د ډېر وخت لپاره په دې هېوادونو کې ژوند وکړي یا خو به خپل دیني هویت په بشپړ ډول له لاسه ورکوي او یا به دا هویت ډېر زیات کمزوری کېږي. همدا راز ملي هویت هم د ځه ارزښتونو او د ملي ګټو او افتخاراتو ځخه عبارت دی، څوک چې د زیات وخت لپاره د کډوال په توګه په بهر کې پاتې شي هغه بیا د ملي هویت سره هغه محکم تړاو نه محسوسوي چې مخکې به یې محسوسوه، ځکه هغه ته نه د ملي هویت، ارزښتونو او افتخاراتو په اړه نه په مکتب او مدرسه که څه ویل کېږي، نه ورته په کوڅه او بازار کې د دې توصیه او تذکیر کېږي، او په دې توګه دا ډېر تضعیف کېږي او یا له منځه ځي. د دیني او ملي هویت دا زیانمنېدل به په دویم او درېم نسل کې ډېر زیات محسوس وي، د کډوالو دویم او درېم نسل خپل ملي او دیني هویت تر ډېره حده له لاسه ورکوي، دا ډول خلک که بېرته کله خپل هېواد ته را ستانه شي په دې ټولنه کې به د هغوی ادغام یوه لویه ستونزه وي.

شپږم: د ښځو د رول بدلون: هغه ټولنې چې افغانان په کې د کډوالو په توګه ژوند کوي هلته په ټولنه او کورنۍ کې د ښځو رول د هغه سره متفاوت دی چې زموږ په ټولنه کې دی، ډېر ځله ښځه د کور مشري پر غاړه اخلي، دا ډول خلک چې د ښځو هغه ډول رول تجربه کړي زموږ په ټولنه کې د هغوی بیا ادغام یو ستونزمن کار ګرځي.

اووم: رواني ستونزې: کډوالي ډېر وخت د شدیدو رواني ستونزو لامل ګرځي په ځانګړې توګه کله چې کوربه هېواد داسې وي چې هلته د کډوالو سره تبعیضي چلند کېږي لکه ایران او په دې وروستیو کلونو کې پاکستان، اروا پوهان وایي چې زیات دا ډول کډوال د (Post-Traumatic Stress Disorder) (PTSD) د ټراومې وروسته د استرس نا انډولي ځخه کړېږي چې دا د جنګ او جګړو لامل ګرځي، همدا راز هغه ماشومان چې پلار یا مور یې کډوال وي هغوی د عاطفي پاملرنې ځخه بې برخې پاتې کېږي.

کډوالي ډېرې زیاتې ټولنیزې اغېزې لري چې دا څه مو د نمونې په توګه ذکر کړې، تفصیلي پایلې به یې د محققینو او لیکوالانو په څېړنو کې یادې شي.

څلورم: سیاسي اغېزې

کډوالي او په بهر کې په لوی شمېر کې د افغان کډوالو شتون د افغانستان په سیاست ډېرې ژورې اغېزې پرېږدي، دا اغېزې هم څه مثبتې او څه منفي دي، خو موږ دلته یوازې د منفي اغېزو یادونه ځکه کوو چې دا اغېزې یې غالبې او خطرناکې دي، دا اغېزې په ډېر لنډ ډول په لاندې توګه دي:

لومړی: په بهرنیو هېوادونو کې د موجودو کډوالو او یا د هغو وګړو له لارې د افغانستان د حکومت په بنسټیزو سیاسي تصمیمونو باندې د اغېزو د درلودلو هڅه چې کورنۍ یې په بهرنیو هېوادونو کې ژوند کوي.

دویم: د هغو سیاسي فعالیتونو له لارې د نظام د کمزوري کولو هڅې چې په بهر کې موجود افغان کډوال یې په لاره اچوي، چې په دې کې د جبهو، اتحادیو، احزابو او داسې نورو تجمعاتو تشکیلول، د نظام ضد رسنیز فعالیتونه، غونډې او کنفرانسونه سرته رسول، د بهرنیو هېوادونو د حکومتي چارواکو سره لیدنې کتنې او داسې نور شامل دي.

دریم: په بهرنیو هېوادونو کې د موجودو افغان کډوالو له پلوه د بېلابېلو فعالیتونو له لارې د نړۍ د هېوادونو سره د اسلامي امارت اړیکې عادي کېدو ته نه پرېښودل او د نړۍ له پلوه د نظام په رسمیت پېژندنه کې خنډونه رامنځته کول.

څلورم: د کډوالو د اجباري را ستنولو له لارې په هېواد کې بې ثباتي رامنځته کول، او نظام بې کفایته معرفي کول، ځکه کله چې خلک په داسې حالت کې هېواد ته راځي چې واقعي ترتیبات ورته نه وي نیول شوي نو دا را ستنېدل د ګډوډیو سره یو ځای وي، او دا ګډوډي یو شمېر هېوادونه د دې لپاره رامنځته کول غواړي چې نظام ناکام او بې کفایته معرفي کړي او فشار پرې زیات کړي.

پنځم: امنیتي پایلې او اغېزې

په بهرنیو هېوادونو کې د افغان کډوالو شتون ډېرې امنیتي پایلې د ځان سره لري چې څه یې ډېرې خطرناکې دي، له دې پایلو څخه دې لاندو پایلو ته دلته اشاره کول غواړم:

لومړی: په بهرنیو هېوادونو کې موجود یو شمېر کډوال د نظام پر ضد د نظامي فعالیتونو لپاره ډلې او جنګي ګروپونه رامنځته کولی شي.

دویم: په بهرنیو هېوادونو کې د کډوالو تجمعات او کمپونه د نظام د مخالفو نظامي ډلو لپاره د جلب او جذب مراکز ګرځي.

دریم: په بهر کې موجود ګڼ شمېر کډوال د نظام د مخالفو نظامي ډلو لپاره د وسایلو او وسلو او تجهیزاتو د برابرولو وسیله ګرځي.

څلورم: په بهر کې موجود یو شمېر کډوال د دې هڅه کوي چې هېوادونه د دې نظامي ډلو او جنګي ګروپونو سره همکارۍ او مرستې ته وهڅوي.

پنځم: په بهر کې موجودو کډوالو څخه بهرني استخبارات د خپلو هېوادونو لپاره مزدوران او جاسوسان استخداموي چې د اړتیا په وخت کې یې د خپلو موخو لپاره په کار واچوي.

شپږم: د اجباري را ستنونکو په قطار کې داسې خلک هېواد ته را لېږل چې د هغوی جاسوسان او مزدوران وي چې د اړتیا په وخت کې ترې ګټه پورته کړی شي.

د دې محور څېړل ځکه ډېر اړین دي چې د دې په نتیجه کې به موږ دې نتیجې ته ورسېږو چې د کډوالۍ د ستونزې حل کول څومره اړین او ضروري دي، که دا ستونزه هواره نه کړی شي او کډوال په خپل حال په بهرنیو هېوادونو کې پاتې شي نو همېشه د هېواد لپاره د ډېرو ستونزو مصدر ګرځېدلی شي، زموږ په کنفرانس کې به ډېر لیکوالان او څېړونکي په همدې اړه خپلې مقالې کنفرانس ته وړاندې کړي

څه کول پکار دي؟

زموږ ټول لیکوالان او څېړونکي به په خپلو مقالو کې د دې یادونه په طبیعي توګه کوي چې د افغانستان ملت او حکومت ته څه کول پکار دي؟ کله چې موږ کډوالي د افغانستان لپاره د ستونزې په توګه تشخیص کړو، او په دې اتفاق ولرو چې دا یوه جدي ستونزه ده چې زموږ هېواد ورسره مخ دی، نو اوس سوال دا را ولاړېږي چې څه کول پکار دي؟ د دې سوال ته ځواب د لټولو په لړ کې به زموږ څېړونکي او لیکوالان لاندې ټکو ته جدي پاملرنه وکړي:

لومړی: موږ باید د ملت او نظام په توګه په دې قانع شو چې کډوالي د افغانستان یوه لویه ستونزه ده او دا باید حل کړی شي، د دې د حل کولو لپاره په جدیت سره ګامونه پورته کړی شي.

دويم: د دې ستونزې د حل لپاره بايد يوه جامع او هر اړخيزه ستراتيژي وټاکل شي چې له مخې يې د ټولو اړوندو اړخونو مسؤوليتونه مشخص وي او تطبيقي پلان ګذاري هم ورسره شوي وي.

دريم: د کډوالو په اړه بايد د اړوندو هېوادونو سره جدي تفاهم شتون ولري، په دې لړ کې بايد د ديپلوماسۍ څخه کار واخيستل شي، تر څو دې مسئلې ته حل پيدا کړو، او خپله خوږه ګوته د نورو له تيږې څخه را وباسو.

څلورم: جذري حل د دې غوښتنه کوي چې موږ هغه ټول لاملونه له منځه يوسو چې د افغانستان څخه د خلکو د کډوالۍ لامل ګرځي، همدا راز داسې ګامونه بايد پورته کړو چې په نورو هېوادونو کې د افغانانو لپاره موجود جذابيت راکم کړو. که دا کار مو وکړ موږ به په مستقل ډول دې ستونزې ته د پای ټکې ايښی وي. زموږ ټول څېړونکي او ليکوالان د حل لارو په توګه په دې لاندې ټکو ټينګار کوي:

- په اوسنيو شرايطو او حالاتو کې کډوالي د افغانستان لپاره يوه ستونزه ده چې بايد حل شي سره له دې چې څه مثبت اړخونه هم ولري.
- او دا ځکه ستونزه ده چې د ژوند په بېلابېلو اړخونو کې د افغانستان لپاره ناوړه پايلې لري دا که په سياسي ډګر کې وي او که په اقتصادي، امنيتي او ټولنيزو ډګرونو کې.
- کډوالي يوه داسې پديده ده چې ډېر زيات لاملونه لري، څه لاملونه يې هغه دي چې زموږ په هېواد کې موجود دي او خلک کډوالۍ او هېواد پرېښودو ته هڅوي، او څه هغه مثبت نقاط دي چې په نورو هېوادونو کې شتون لري او خلک ځان ته را جذبوي او له افغانستان څخه يې کډه کولو ته هڅوي.
- د دې ستونزې بنسټيز حل په دې کې دی چې موږ دا دواړه ډوله لاملونه له منځه يوسو او د ملت سازۍ په لور خپل ملت سوق کړو.
- د هېواد څخه کډوالۍ ته هڅوونکي لاملونه په دې توګه حل کړو چې هغه له منځه يوسو، او په نورو هېوادونو کې د کډوالو جذبوونکي لاملونه په دې توګه له منځه يوسو چې هغه جاذبه لروونکي عوامل دلته په خپل هېواد کې رامنځته کړو، بيا به دا شيان خلک هلته نه جذبوي او خلک به په خپل هېواد کې پاتې کېږي.
- او دا حل يو ملي تصميم او يوې قوي سياسي ارادې ته اړتيا لري، دا يواځې د يو وزارت او يا د يوې اداري له توان څخه پورته کار دی، له همدې امله دا يوې بشپړې ملي ستراتيژۍ ته اړتيا لري چې بايد جدي کار پرې وشي.

وسبحانک اللهم وبحمدک نشهد أن لا إله إلا أنت نستغفرك و نتوب إليك.